په سوریه کې وروستي پرمختگونه

د اردوغان له لوري د فرات پر ختیځ باندې د برید اعلان او د ټرمپ له لوري له سوریې څخه د خپلو ځواکونو د وتلو اعلان



**پوښتنه:**

د فرات پر ختیځ د برید په تړاو د اردوغان بیانیه، بیا د برید ځنډول، ورپسې یې یو ځل بیا د برید اعلانول او له سوري رژیم څخه د کردانو د ځان ژغورنې له غوښتنې وروسته، په چټکۍ له روسیې څخه په عملیاتو کې د همږغۍ غوښتنه، چې هغوی هم ومنله. همداراز ټرمپ اعلان وکړ چې دی به امریکایي سرتېري د فرات له ختیځ څخه وباسي... او بیا وروسته د تشې ډکولو په اړه خبرې کول او داسې نور... هغه څه دي چې دغه پوښتنې رامنځته کوي: اردوغان ولې د فرات سیند پر ختیځ باندې د برید په تړاو زړه نازړه دی؟ ایا دغه کړنې او بیانیې له امریکا سره په همږغۍ او یا له همږغۍ پرته کېږي او ایا د ټرمپ او اردوغان د تګلارو تر منځ توپیر په ډاګه کوي؟ او له سوریې څخه د امریکایي پوځیانو د وتلو انګېزه څه ده؟ د پوښتنې د اوږدېدو له امله بخښنه غواړم الله سبحانه وتعالی دې تاسو ته په نېکیو سره بدله درکړي.

**ځواب:**

هغه وخت چې اردوغان د فرات پر ختیځ باندې د برید اعلان وکړ او ټرمپ له سوریې څخه د خپلو ځواکونو د وتلو اعلان وکړ، یادې ټولې پېښې تر ننه پورې څېړو:

لومړی: د اردوغان پالیسي د امریکا له پالیسۍ سره همږغې ده او د امریکا له پالیسۍ څخه توپیر نه لري، خو لکه څرنګه چې ده یې ویلي و، په ښه توګه یې پلې کوي، په دې ډول:

۱- د سوريې لپاره د امريکا استازی جيمز جيفري د ۲۰۱۸م د ډيسمبر پر ۱۲مه انقرې ته له ترکي چارواکو سره د ليدو کتو په موخه ورسېد او د سوريې په تړاو يې د امريکا اوسنی پلان په ځانګړې توګه د منبيج او ادليب په اړه ورته په ډاګه کړ. جيفري ټينګار وکړ چې د منبيج همکاري  په سوريه کې د سولې لپاره يو بېلګه شوه، «د امريکا او ترکيې له نږدې همکارۍ پرته هلته وروستۍ پرېکړه ناشونې ده». د کردي ملېشو په تړاو ده وويل: «موږ تل وايو چې د سوريې له ديموکراټيک ځواک سره زموږ کار د داعش پر وړاندې لنډ مهاله او تاکتيکي دی...»

(آر ټي انلاين، ۸/۱۲/۲۰۱۸). له دې کتنې څلور ورځې وروسته اردوغان د تلويزيون له لارې د فرات پر ختيځ باندې د بريد نوی پلان اعلان کړ، ترکي ولسمشر وويل: «موږ به د څو ورځو په ترڅ کې هلته پوځي عمليات پيل کړو، ترڅو د فرات سيند ختيځ لوری له بېلتون غوښتنکو تروريستانو څخه پاک کړو. د ده اشاره هغو سيمو ته وه، چې د خلکو د ژغورنې ډلې (YPG) له لوري اداره کېږي.» (بي بي سي، ۱۲/۱۲/۲۰۱۸)

۲- د فرات سيند په ختيځ کې د ترکيې د نوي پوځي عملياتو له اعلان څخه څو ساعته وروسته د امريکا د دفاع وزارت له لوري يو شمېر بيانيې خپرې شوې، چې د يادو عملياتو پر ضد وې. د پينتاګون وياند سين رابرټسن په يوې اعلاميه کې وويل: «د سوريې په شمال ختيځ کې به هر ډول يو اړخيز پوځي اقدامات «لوی ګواښ» رامنځته کړي او په دې ډول به په بالقوه توګه هغه امريکايي ځواکونه په خطر کې ولوېږي چې له سوري ديموکراټيک ځواک سره په سيمه کې کار کوي». ده زياته کړه: «موږ ته دغه ډول اقدامات د منلو وړ نه دي» (نوی ګولپ پوسټ، ۱۳/۱۲/۲۰۱۸). تر دغه مخالفت وروسته ترکيې خپل ځان د دوو بېلو نظرونو، پنتاګون او په سنا کې د  جمهوريت غوښتنکو ترمنځ وليد، چې د دواړو سرچينې له واشنګټن څخه وې. نو د ترکيې پلان د واشنګټن د وروستي نظر تر څرګندېدو پورې وځنډېد! دوشنبه د ۲۰۱۸ م د ډيسمبر پر ۱۷مه، د ترکيې ولسمشر رجب طيب اردوغان وويل، چې د ده هيواد ښايي هر وخت په سوريه کې نوي نظامي عمليات وکړي... اردغان د هيواد په مرکزي سيمې کونيه کې د وينا پر مهال وويل: «موږ په رسمي ډول دا اعلانوو چې موږ به نظامي عمليات د فرات سيند په ختيځ کې پيل کړو». ده زياته کړه: «موږ په دې اړه له ښاغلي ټرمپ سره رغېدلي يو او د ده ځواب مثبت و.» (رويټرز، ۱۷/۱۲/۲۰۱۸)

۳- ولسمشر ټرمپ چهارشنبې د ۲۰۱۸م د ډيسمبر پر ۱۹ ناڅاپه اعلان وکړ، چې امريکايي ځواکونه له سوريې څخه وباسي او دا ځکه چې دوی خپله دنده چې هغه د «داعش» ماتول و، پای ته رسولې. ټرمپ وويل: «د داعش پر وړاندې تر تاريخي بريا وروسته اوس د دې وخت دی چې زموږ غيرتي ځوانان کور ته راستانه شي.» (روسي سپوتنيک نيوز اژانس، ۲۰/۱۲/۲۰۱۸). په دې وتلو سره امريکا وښوده، چې دوی د فرات سيند ختيځې سيمې، ترکيې ته ور پرېږدي او  له ځنډ پرته د اردغان پلان نوې ساه واخيسته، د ځينو سرچينو په وينا، د هيواد سوېل ته له سوريې سره پر پوله مېشتو ځواکونو ته د ترکي پوځ له لوري نوي مرستندوی ځواکونه ولېږل شول.

۴- له سوریې څخه د ولسمشر له لوري د ځواکونو د ایستلو پرېکړې په واشنګټن کې د سیاستوالو تر منځ د نیوکو یو طوفان را ولاړ کړ او دا پرېکړه د جمهوریت غوښتونکو ګوند د وتلو غړو له مخالفت سره مخ شوه، د دې پرېکړې له امله د دفاع وزیر ناڅاپي استعفا وکړه. «د امریکا د دفاع وزیر جېمز متېس له خپلې دندې استعفا وکړه. په خپل استعفا لیک کې متېس له ټرمپ سره د پالیسۍ توپیر ته اشاره کړې…» (بي بي سي، ۲۱/۱۲/۲۰۱۸). د واشنګټن له لوري له دې شرم سره سره ترکي ولسمشر په استنبول کې د وینا پر مهال وویل: «موږ تېره اونۍ پرېکړه کړې وه چې د فرات سیند پر ختیځ لوري به پوځي برید کوو… موږ د ټلیفون له لارې له ولسمشر ټرمپ سره خبرې وکړې او هلته د دیپلوماتانو او امنیتي چارواکو تر منځ اړیکې شتون لري، امریکا بیانیې خپرې کړي دي، ترڅو موږ اړ باسي چې د یو څه مودې لپاره له زغم څخه کار واخلو». اردغان زیاته کړه: «موږ د "کردي جنګیالیو" پر وړاندې هغه پوځي عملیات وځنډول، چې د فرات سیند په ختیځه څنډه کې پام کې وو. موږ په سیمه کې له سوریې څخه د امریکا د وتلو د پرېکړې پایلې لیدلی شو». (رویټرز، ۲۲/۱۲/۲۰۱۸).

له همدې امله د ترکیې پوځي عملیات د فرات په ختیځ کې د دوو ورځو په ترڅ کې وځنډېده، ځکه ترکیه د واشنګټن راتلونکې پرېکړې ته په تمه ده، چې نبایي عملیات وکړي یا یې ونه کړي. د جیفري تر لیدنې وروسته د برید اعلانول یا ځنډول په امریکا پورې اړه لري. یانې ترکیه په سوریه کې کومه بېله پالیسي نه لري پرته له دې چې یو څه له واشنګټن څخه ورته راشي، ترکیې داسې حالت غوره کړی چې د امریکا د ګټو پر مدار را څرخي او یو مزدور ته ورته ده. په ترکیه کې رژیم تر خپلو ګټو زیات د امریکا په ګټو پسې ګرځي او دا کار څو ځلې شوی دی، لکه د فرات سپر او د زیتون څانګې په عملیاتو کې! کله چې ترکیې په منبیج کې عملیات پیل کړل، بیرته یې ودرول، ځکه دا د امریکا لپاره سرې کرښې دي او ترکیه له دې سرو کرښو نشي اوښتی!

دوهم: له سوریې څخه د ټرمپ پرېکړې تر شا چې خپل ځواکونه له سوریې څخه باسي لاندې ټکې د پوهېدو وړ دي:

1. د افغانستان او عراق تر نیواک وروسته د امریکا نهیلي د دې لامل شوه چې ولسمشر اوباما د لاسوهنې یوه نوې بڼه چې د امریکایي ځواکونو وتل یا کمول پکې نغښتي وه، خپله کړي او پر خپلو متحدینو یې زړه وتاړه چې دوی به د جګړې لپاره پوځونه تیاروي. د سوریې پاڅون له پیل څخه امریکا په سیمه کې خپل لاسپوڅي، لکه ترکیه، ایران، د خلیج د همکاریو شورا هیوادونه او همدا رنګه اروپایي اتحادیه وهڅول، چې د اسد رژیم پر خلاف د پاڅون په خنثی کولو کې فعاله ونډه واخلي. کله چې یادې چارې بسنه ونه کړه، امریکا په ډاګه له روسیې څخه وغوښتل چې د ژینوا تړونونو له لارې د سوریې لپاره

دیپلوماتیک حل په پیدا کولو کې له امریکا سره مرسته وکړي. که څه هم امریکا په سوریه کې له نظامي ښکېلتیا څخه ډډه وکړه.

کله چې ټرمپ واک ته ورسېد، ده یادې موضوع ته پاملرنه زیاته کړه. د وتلو پرېکړه د ۲۰۱۸ م د ډیسمبر پر ۱۹ نېټه وشوه. ټرمپ د خپلې پرېکړې دفاع وکړه. ده پر خپله ټویټرپاڼه د ۲۰۱۸ م د ډیسمبر پر ۲۰مه څو ټویټونه وکړه: « دی خپله هغه ژمنه چې د ۲۰۱٦ د ټاکنیزو منډو ترړو په ترڅ کې یې کړې وه چې له سوریې څخه به خپل ځواکونه وباسي، ترسره کوي». له سوریې څخه وتل هېښوونکي نه دي. ما له کلونو راهیسې او شپږ میاشتې مخکې همدغه هلې ځلې کولې، کله چې ما په رسمي توګه وغوښتل چې یاد کار وکړم، نو پرېکړه مې تر ډېرې مودې وځنډوله. روسیه، ایران، سوریه او نور د داعش ځایي دښمنان دي. موږ هلته خپل کار کړی دی. اوس یې وخت دی چې خپل ټاټوبي ته ستانه شو. ټرمپ په خپله رسمي ټویټر پاڼه ټویټ کړی: «موږ هلته باید درې میاشتې وای، خو هلته مو اوه کاله تېر کړه- هغه ځای مو پرې نښود». دی زیاتوي: «کله چې زه ولسمشر شوم، داعش پیاوړی شو. اوس داعش په پراخه کچه ماته خوړلې او د ترکیې په ګډون د سیمې نور هیوادونه باید په اساني وکولی شي چې د داعش پاتې شونې له منځه یوسي. موږ خپل ټاټوبي ته ستنېږو!» (روسیه ټوډې ورځپاڼه، ۲۲/۱۲/۲۰۱۸)

په ورته وخت کې ده په ۱۷/۹/۲۰۱۸ مه له روسیې، ایران، سوري رژیم او اردغان څخه د هغه ستر چوپړ له امله مننه وکړه چې د ادلیب په تړاو د سوچي په تړون کې یې د امریکا لپاره ترسره کړ. ده همدا رنګه دوی ته ور په زړه کړه چې دا دی و، ویې غوښتل چې د سوچي تړون وشي او دوی د ده غوښتنې ته ځواب ووایه... دی پوهېږي چې روسیه، ایران او د هغه ګوند (حزب الله) او ملاتړي یې په لبنان، ترکیه، سعودي عرب او نور ځایونو کې د ده تیار لاسپوځي دي او کولای شي د امریکایي موخو لپاره جګړه وکړي، د سوریې رژیم د پرځولو مخه ونیسي او د اسلام بیرته ستنولو مخه ونیسي. دوی په په ژینوا، استانه او سوچي کې پټ او ښکاره تړونونه وکړل. امریکا د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته د سوریې په تړاو ځانګړې ۲۲۵۴ شمېره پرېکړه وړاندې کړه چې یادو ښکېلو هیوادونو د رایو په اتفاق سره ومنله، دوی او نورو د یادې پرېکړې د پلي کېدو غوښتنه هم وکړه. موږ د ۲۹/۷/۲۰۱۸ نېټې د پوښتنې په ځواب کې ویلي وو چې دا د امریکا له پلانونو څخه یو و، چې په لاندې ډول یې دلته بیا یادونه کوو:

« پر سیمه ییزو ځواکونو د "سوله ساتې ماموریت" تر نامه لاندې زړه تړل او دوی ښایي مصري، سعودي او ترکي ځواکونه د یادې موخې لپاره وګماري. دا نوي څه نه دي... د امریکا له انده د سوریې شخړې لپاره حللاره دا ده چې بهرني ځواکونو ته یاد ماموریت وسپاري... د ډونالډ ټرمپ اداره په پام کې لري چې د امریکایي ځواکونو

ځای عرب ځواکونه ونیسي، ترڅو په شمالي ختیځ کې د داعش تر ماتولو وروسته هلته ثبات او ټیکاو وساتل شي».

2. ټرمپ یو سوداګر دی، چې د هر څه ګټه او زیان په نظر کې نیسي. دی غواړي چې د امریکایي ځواکونو لګښتونه د امریکا په خزانه کې وسپموي. که څه هم سعودي عرب او متحده عربي امارات د کردي ځواکونو لګښتونه تمویلوي او دوی په وسلو سمبالوي او همدا رنګه د نړیوال ایيتلاف د لګښتونو لپاره هم بسپنه ورکوي: «سعودي عرب او متحده عربي امارات په دې وروستیو کې په سوریه د سرې جګړې ډېر مهم لوبغاړي وو، د هغو راپورونو پر ضد چې ګواکې ریاض د ترکیې پر پوله د سوري کردانو ملاتړ کوي» (العربیه مصر، ۴/۱۲/۲۰۱۸). سعودي عرب همدا راز د ۲۰۱۸ م د ډیسمبر پر ۱۴ مه د امریکا په مشري ایيتلاف ته د یوې اندازه پیسو د ورکړې اعلان وکړ. «سعودي عرب ۱۰۰ مېلیونه ډالر بسپنه ورکړه، په داسې حال کې چې متحده عربي اماراتو د ۵۰ میلیونه ډالرو نوې بسپنې ژمنه وکړه، یادې څرګندونې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویاند هایدر نورټ وکړې». (خلیج انلاین، ۱۷/۱۲/۲۰۱۸)

که څه هم ده د خپلو پوځیانو د تګ راتګ او وسلو لګښتونه څرګند نه کړه، ځکه دی د یو سوداګر په څېر یاد لګښتونه یو زیان ګڼي او دی غواړي چې خپل دغه رول یو بل چا ته وسپاري. د ۲۰/۱۲/۲۰۱۸ مه د رویټر خبري اژانس په وینا ټرمپ یادې څرګندونې تر هغې پربکړې وروسته وکړې چې له سوریې څخه به خپل ځواکونه وباسي. ټرمپ زیاته کړه: «ایا امریکا غواړي چې د منځني ختیځ ساتونکې شي او هیڅ هم ترلاسه نه کړي، خو زموږ پوځیان خپل خوږ ژوند له لاسه ورکړی او ترېلیونه ډالر مو لګولي، د دې لپاره چې نور وساتو او هغه خلک چې زموږ د کارونو یوه کوچنۍ ستاینه هم نه کوي؟ ایا موږ غواړو چې هلته تل واوسو؟ اوس هغه وخت دی چې نور باید جګړه وکړئ...» د دې ټولو څخه داسې ښکاري چې امریکا له نورو څخه غواړي د هغې جګړې مخ ته یوسي، ترڅو د امریکا پرځای د هغوی وینه توی شي او د هغوی پیسې د امریکا د پیسو پرځای ولګېږي!

3. ټرمپ له نورو غاړو غواړي چې د امریکا له غوښتنې سره سم په سیاسي حللاره کې ښکېل شي، خو دی په اوسنیو حالاتو کې د نورو د پوځي اقداماتو غوښتنه نه کوي. ده د روسیې پوځ او د رژیم ځواکونه پر ادلیب باندې د برید کولو څخه منع کړه، ځکه دی غواړي چې لومړی له خپل پلان سره سم سیاسي حللاره پیدا کړي او یادې پوښتنې ته موږ د ۲۲/۹/۲۰۱۸ ګڼه کې په لاندې ډول اشاره کړې وه:

« روسیه د امریکا په دغه تګلاره پوهېږي... له همدې امله هغې خپل هغه برید بشپړ نه کړ چې په هغه سره د ادلیب کړکېچ پای ته رسېده. ترکیه چې امریکا یې ملاتړ کوي له یاد برید سره مخالفه ده او ایران غلی دی... له همدې امله د ۷/۹/۲۰۱۸ نېټې ناسته په ایران کې د روسیې پلان چې پر ادلیب باندې د برید په تړاو و او په دې سره یاد کړکېچ د روسیې له پلان سره سم پای مونده، له ناکامۍ سره مخ شو. دغه کار یوازې یو څو ورځې

مخکې تر هغه وشو چې اردغان او پوتین ناسته وکړه او د برید پرځای د خوندي سیمو پر جوړولو یې هوکړه وکړه! دا هر څه د امریکا له برکته وه. ناوستي خبري اژانس د ۱۸/۹/۲۰۱۸ د یوه امریکایي چارواکي له خولې راپور ورکړ، چې هغه یاد اژانس ته وویل: «موږ د یاد تړون هرکلی کوو او روسیه او ترکیه هڅوو چې د اسد رژیم او د هغه متحدین پر ادلیب باندې د برید کولو د مخنیوي په تړاو عملي ګامونه اخلي...»

له همدې امله روسیې پر ادلیب باندې خپلې دزې بندې کړې او خپلې هغه بېړۍ یې چې په مدیترانې سمندرګي کې یې تمرینونه کول، ستنې کړې او روسیه تراوسه هم په نیغه توګه یا هم د ترکیې له لارې امریکا ته ننواتې کوي چې د ادلیب موضوع تر سیاسي حللارې مخکې په پوځي توګه حل او فصل کړي. خو امریکا د ادلیب په تړاو د پوځي حللارې پرځای سیاسي حللاره غواړي او له دې څخه د یوه فشار په توګه کار اخلي، ترڅو روسیه او د هغې پوځي اډې په سوریه کې بدنامه کړي او په پای کې مخالف ځواکونه راپورته کړي او د روسیې د پوځي اډو شتون د یوې موضوع په توګه په سیاسي حللاره کې راپورته کړي... یانې د ترکیې ګټې او د هغې تر شا د امریکا ګټې په دې کې نغښتې دي چې روسیه پر ادلیب باندې له برید کولو څخه منع کړي، ځکه په دې کې د امریکا ګټه ده او دا د دې لپاره نه دي چې د اسد رژیم دې ادلیب تر خپلې ولکې لاندې نه راولي او نه هم د ملکي وګړو د ساتنې په موخه دا اقدامات ترسره کېږي. خو امریکا خپله حللاره تپي ترڅو روسیه اړباسي او حللاره ومني. په دغه صورت کې دوی ادلیب د وینو، ملکي او غیرملکي وګړو، خوندي او ناخوندي سیمو په تړاو هیڅ اندېښنه نلري... د سوریې په بېلا بېلو برخو کې تاریخ د دوی پر وحشي کړنو شاهد او د دوی جرمونه له هیچا څخه پټ نه دي...» د خبر پای.

له همدې امله د ټرمپ د وتلو پرېکړې ښکېلې غاړې یادې موخې ته نږدې کړې، ده ترکیه تېرایستله او هیله یې ورکړه چې د امریکایي ځواکونو له وتلو وروسته به ترکیه یاده خلا ډکوي... او د کردانو په زړه کې یې وېره خپره کړه چې دوی اوس د ترکیې له ګواښ سره مخ دي. له همدې امله کردانو د خوندیتوب په موخه د سوریې رژیم لوري ته منډه کړه، دا هغه څه دي چې رژیم یې غواړي. په منبیج کې د کردانو پر وړاندې د ترکیې ګواښ، رژیم وهڅاوه چې په منبیج کې خپل ځواکونه ځای پرځای کړي... ځکه روسیه د رژیم ملاتړ کوي او په ورته وخت کې له ترکیې سره هم هوکړه لري، په دې ډول د ترکیې لپاره ستونزمنه ده چې هم په منبیج کې له رژیم سره جګړه وکړي او هم په سیمه کې نوې اړیکې ورغوي... له همدې امله ټرمپ ښکېلې غاړې پرته له غوراوي پرېښودلې، خو دا چې د خبرو میز ته کښیني او دا هغه څه دي چې امریکا یې غواړي! ځینو لورو په ښکاره خبرې اترې پیل کړې او نور په پټه خبرې کوي:

الف- د روسيې د بهرنيو چارو وزارت يوې وياندې وويل: «له سوريې څخه امريکايي ځواکونو د وتلو پرېکړه بايد يوې هر اړخيزې حللارې سره مرسته وکړي، دې يادونه وکړه چې له سوريې څخه د وتلو مهال ويش پټ دی». (عربي سپوتنيک، ۲۶/۱۲/۲۰۱۸)

ب- د المعدوم خبري سرچينې منلې ده چې د منبيج د مهارولو بهير کوم چې دوې ورځې مخکې اعلان شو، د ترکيې په غوښتنه بند شوی او دا بهير په دې موخه ځنډېدلی چې ترکيه له روسيې او امريکا سره لا ډېرې خبرې اترې وکړي». (۲۷/۱۲/۲۰۱۸) پای.

په پايله کې ټرمپ په دې وتوانيد چې د ښکېلو غاړو هڅو ته د سياسي حل يو لوری ورکړي او د ځواکونو د وتلو پرېکړې دا چاره شونې کړه. ده وويل: «... ښکېلو غاړو ته هيڅ غوراوی پاتې نشو، خو د امريکا له پلان سره سم د سوريې کړکېچ ته د پای ټکی ايښودل دي.

4. ټاکنيز شعار هم د ټرمپ له مهمو دلايلو څخه دی. ټرمپ د بهرنيو جګړو په تړاو پخوانی شخصي دريځ لري، د ټاکنيز کمپاين له مخې «لومړی امريکا» د ده شعار و، چې همدغه شعار دی بريالی کړ. ځکه نو له سوريې او افغانستان څخه د ځواکونو وتل د راتلونکي ۲۰۲۰ ټاکنيز کمپاين په موخه د ده لپاره په شخصي توګه هم ګټور دي. دی اراده لري چې له سوريې څخه ۲۰۰۰ (ګارډين، ۱۹/۱۲/۲۰۱۸) او له افغانستان څخه ۷۰۰۰ (اين پي آر، ۲۱/۱۲/۲۰۱۸) پوځيان وباسي او په دې سره يې د امريکايانو ترمنځ په عمومي توګه شهرت او ملاتړ ترلاسه کړ او په ۲۰۲۰م ټاکنو کې به بيا ځلې ونومول شي.

دريم: ټرمپ له سوريې څخه د وتلو نه مخکې په سيمه کې خپلو اجنټانو او لاسپوڅو ته سرخوږی جوړ کړ. د ټرمپ له پرېکړو نه ښکاري، چې دی خپلو سيمه ييزو وفادارو ته ارزښت نه ورکوي، خو د ده پلويان په دې خبره نه پوهېږي، که پوه شي، لار به ورنه ښېله کړي. ده خپل پلويان د خپلو طرحو د عملي کولو په لاره کې استعمال کړل آن روسيه او اروپا يې هم تېر ايستل.

۱: کردان چې د امريکا ډېر پلويان دي، فکر يې کاوه چې امريکا دوی ته روزنه او وسلې له دې امله ورکوي، چې دوی له سوريې نه بېل شي او يو خپلواک دولت ولري، چې د دې دولت د دفاع ضمانت به خپله امريکا کوي. دوی د همدې ارمان په خاطر د امريکا هر امر پر ځای کاوه. دوی د هرې هغې جګړې په لومړی کرښه کې جګړه کوله، کومه چې امريکا پيل کوله. د امريکا د دفاع وزير اشټن کارټر د کرد ځواکونو فعاليتونه وستايل او ويې ويل: «کرد ځواکونو له داعش سره د مبارزې په لاره کې له موږ سره ډېره مرسته وکړه. موږ يې هڅې ستايو او مننه ور څخه کوو. موږ ژمن يو چې په سيمه کې د دوی له رول څخه ملاتړ وکړو» (حريت ورځپاڼه). کردانو فکر

کاوه، چې امریکا به په پټه او ښکاره د دوی ملاتړ پاتې شي، خو د سوریې لپاره د امریکا ځانګړي استازي جېمز جیفري په خپله یوه بیانیه کې وویل: «موږ هر وخت دا خبره کړې چې له کردانو سره زموږ کار موقت دی او د یوه تاکتیک پر اساس دی». (آر ټي آنلاین)

دوی د امریکا لپاره ښه په اخلاص خدمات وکړ او امریکا هم چې هرځای به یې غوښتل دوی به یې د خپلو ګټو لپاره کارول. اوس چې په سیمه کې د امریکا ګټې تامین شوي، پرته له دې چې د کردانو ګټې په نظر کې ونیسي، له سوریې نه یې د وتلو پرېکړه وکړه او کردان یې د ترکیې خطر ته پرېښودل. په پایله کې کردان بیا ځلې د دمشق رژیم مهربانۍ ته اړ شول. امریکا هم غوښتل چې د سوریې حکومت د بیا ځلې د سوریه پر شمال واکمن شي. «کرد مشران د امریکا د متحده ایالاتونو پرېکړې په سختو اندېښنو کې اچولي. دوی چې پر شمالي سوریه واکمن دي، له مرکزي حکومت او له روسي پوځ نه غوښتنه کړې چې د دې سیمې کنټرول دې بیرته په خپله ولکه کې واخلي. دوی د ترکیې له یرغل نه وېرېږي». (سپوتنیک)

د سوریې ډیموکراټیک ځواکونو د امریکا د متحده ایالاتونو د ناڅاپي وتلو د اعلان په اړه په یوې بیانیه کې وویل: «دا زموږ پر شا د چړې یو ګذار وو او د زرګونو جنګیالیو وینو ته یو سپکاوی دی». د سوریې پر حالاتو د څار ډلې په خپلې یوې بیانیه کې له یوې سرچینې نقل قول کړی دی، چې ویلي وو د امریکا ناڅاپي وتل د سوریې له ډیموکراټیکو ځواکونو او کرد ولس سره یوه جفا ده.

۲: د امریکا دې پرېکړې ترکیه هم په شرمونو وشرموله. تر هغه وروسته چې د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردغان له ټرمپ سره په ټلیفون خبرې وکړې، ترکیې فکر کاوه، چې په شمالي سوریه کې چې کومه تشه رامنځته کېږي، دا تشه به ترکیه ډکوي. نن روسیې د ۲۰۱۸م د ډیسمبر پر ۱۹مه راپور ورکړ: «یوه امریکایي چارواکي له رویټرز خبرې آژانس سره په مرکه کې وویل، چې ټرمپ له هغه وروسته له سوریې څخه د خپلو ځواکونو د ایستلو پرېکړه وکړه، چې د ترکیې له ولسمشر رجب طیب اردغان سره یې د ټلیفون پر لیکه خبرې وکړې. همدې سرچینې وویل چې دا هرڅه تر ټلیفوني خبرو وروسته پېښ شول».

د ټرمپ او اردغان د ټلیفوني خبرو اترو په اړه د ترکیې انادولو خبرې آژانس د ۲۰۱۸م د ډیسمبر پر ۲۱مه راپور ورکړ: «ترکي ولسمشر وویل: ټرمپ له موږ څخه پوښتنه وکړه: ایا تاسو داعش له منځه وړلی شی؟ اردغان وویل: موږ هغوی له منځه یووړل او په راتلونکې کې هم له هغوی سره مبارزه کولی شو... موږ یوازې ستاسې لوژیستکي مرستو ته اړتیا لرو... په پای کې امریکایان په وتلو شول او اوس زموږ هدف دا دی چې له هغوی سره خپلې ډیپلوماټیکې اړیکې ټینګې وساتو». ځکه نو ترکیې دا فکر کاوه، چې دوی به دا تشه ډکوي. خو کوم څه چې پېښ شول هغه دا وو، چې کردانو له مرکزي حکومت څخه غوښتنه وکړه ترڅو منبیج ته راشي. «د رژیم

نږدې ۱۰۰۰ پوځیان چې ټانکونه او درنې وسلې هم ورسره وې پر طیهه نومې سیمه کې راټول شوي او ۴۰ غړي یې د سوریې له ډیموکراټیکو پوځیانو سره یو ځای الاریما ته نږدې الیلاني نومي کلي ته ننوتي. دا د کردانو او سوري حکومت تر هوکړې وروسته د ترکیې او ازادې سوریې پوځونو پر وړاندې لومړني تحرکات دي». (المودون سایټ)

د ۲۰۱۸م د ډیسمبر پر ۲۹مه د ترکیې د دفاع وزیر، د بهرنیو چارو وزیر او لوی درستیز په دې اړه سلا مشورې وکړې، خو د ځینو روسي چارواکو غبرګون د ترکیې پر وړاندې پاروونکی و. د روسیې د بهرنیو چارو د وزارت ویاندې ماریا زخرووا چهارشنبه د ۲۷/۱۲/۲۰۱۸نېټه وویل: «هغه سیمې چې امریکا ترې وځي باید سوري حکومت یې په واک کې راولي. دا خورا مهمه پوښتنه ده چې د امریکا تر وتلو وروسته به پر دې سیمو څوک واکمن کېږي؟ ښکاره خبره ده چې د نړیوالو قوانینو پر اساس د سوریې مرکزي حکومت به پر دې سیمو واکمن کېږي. موږ له خپلو ترکي همکارانو سره یو ځای پر ګډو پالیسیو کار کوو. موږ دواړو په نظامي او له تروریزم سره د مبارزې په برخه کې یو ځای کار کوو». (المودون سایټ)

وتلې سناتورې لینزي ګراهم هم په خپل یوې څرګندونې کې وویل، چې ټرمپ دې ته ژمن دی، چې ترکیه به د امریکا له وتلو وروسته له کرد ځواکونو سره نښته نه کوي.

وروسته د سوریې د بیا پخلاینې لپاره روسي پوځ د روسیې د همږغۍ مرکز د منبیج ښار په څنډه د المیرا په ښارګوټې کې یو ځل بیا تاسیس کړ حال دا چې روسیه ډېره موده مخکې له دې سیمې وتلې وه. (المودن سایټ،27/12/2018). دې ټولو د تشې ډکولو لپاره ترکیې ته خنډونه جوړ کړي او جوړوي یې!

۳- آن روسیه چې په نسبي ډول یو ځواکمن هیواد دی، خو امریکا یې له یوې شخړې څخه بلې شخړې ته بیایي. روسیه پوهېږي چې دوی د سوریې په معما کې هغه مهال غرق شول، چې د ۲۰۱۵ م د اکتوبر پر ۲۹ مه د اوباما او پوتین تر منځ له ناستې وروسته یې په سوریه کې نظامي مداخله وکړه. په بدل کې پوتین هیله درلوده چې د کریمیا په موضوع کې پر روسیې لګول شوي بندیزونه لېرې کېږي، خو هغه څه ونه شول چې تمه یې کوله... د سیاسي حل لارې تر دومره ځنډېدو وروسته بیا روسیې غوښتل ترڅو د ادلیب موضوع په پوځي بڼه حل کړي او د سوریې له پېټې یې اوږې سپکې شي او له دې سخت حالت څخه را ووځي. هیڅ څه به کوم زیان رامنځته نه کړي، تر هغې چې روسیه په سوریه کې له نظامي کړنو څخه بېغمه کېږي، په هر حال امریکا د دې مخه ونیوله او له پخوا یې سیاسي حللاره غوښتله. موږ د ۲۰۱۸ م د اکتوبر پر ۲۲مه پوښتنې ته په ځواب کې همدې ته اشاره کړې وه چې په دې ډول وه: «په دې ډول روسیې د ادلیب له بمبارۍ څخه لاس واخیست او خپلو بېړیو ته وګرځېدل، چې په مدیترانه کې یې نظامي تمرینات تر سره کول او تر اوسه امریکا ته مخامخ او د

ترکيې له لارې سوال کوي چې د ادليب موضوع تر سياسي حللارې مخکې له پوځي لارې حل او فصل کړي.
خو امريکا په ادليب کې تر هر راز پوځي حللارې مخکې يوه سياسي حل لاره غواړي، ترڅو له دې څخه د فشار د يوې آلې په توګه کار واخلي او روسيه د دوی د نظامي اډو له امله وګواښي، اپوزيسيون را پاروي ترڅو د سياسي حللارې پر مهال د روسي اډو موضوع را پورته کړي...»

او بيا له سوريې څخه د وتلو په اړه د ټرمپ د پرېکړې ستونزې، دې زخم ته نور هم زيان واړاوه!!! هغه څه چې تر دې وروسته پېښ شول دا وو چې روسيه په منبيج او د فرات په ختيځ کې د کردانو په سيمه کې د رژيم او ترکيې تر منځ راغله! روسيې د رژيم ملاتړ وکړ، روسيې او ترکيې پخواني تړونونه درلودل او د ترکيې او د رژيم د ځواکونو ډلې ډلې را رواني وې. روسيې ځان د دوی تر منځ ښکېل وليد او فکر يې کاوه چې روسيه به په ستونزه کې واچوي او جګړه رامنځته کېږي... په دې ډول امريکا روسيه له يوې شخړې څخه بلې ته بيايي!
-د اروپا په اړه، ځيني هيوادونو په نړيوال اييتلاف کې برخه درلوده او داسې فکر کېدو چې دوی به د امريکا له وتلو سره سم په ډاګ او په شرمېدلې حالت کې پاتې شي... هم مهاله دوی غوښتل چې امريکا په سوريه کې وځپل شي او له ورايه په ستونزو کې ښکېل شي! له دې امله دوی نيوکه وکړه او د امريکا له لوري د وتلو پرېکړه يې تر بريد لاندې ونيوله. د برتانيې د لمړي وزيرې وياند وويل: «د داعش پر وړاندې نړيوال اييتلاف ستر پرمختګ کړی، خو لا هم ماموريت بشپړ شوی نه دی او موږ بايد د داعش له لوري د پېښېدونکي ګواښ پر وړاندې روحيه له لاسه ور نه کړو، ان که سيمې د داعش په ولکه کې نه وي بيا هم داعش يو پاتې کېدونکی ګواښ دی، (ايرو نيوز، ۱۹/۱۲/۲۰۱۸) چې دا د ټرمپ د وتلو دليل نفي او بې اغېزه کوي. فرانسوي ولسمشر، ايمانويل مکرون هم له سوريې څخه د امريکايي ځواکونو د وتلو پر پرېکړه نيوکه کړې او ټينګار يې کړی چې د متحدينو تر منځ بايد د باور فضا شتون ولري». او ويې ويل: «زه د سوربې په اړه د ټرمپ له پرېکړې څخه بخښنه غواړم». دا په داسې حال کې ده د چاد هيواد له پلازمېنې انجامانا څخه خبرې کولې. دغه راز مکرون زياته کړه: «د وحدت او يووالي مانا دا ده چې څنګ په څنګ جګړه مخته يوورل شي. فرانسې له چاد سره د جهادي وسلوالو ګروپونو پر وړاندې ډېرې هلې ځلې کړي دي. (بي بي سي، ۲۳/۱۲/۲۰۱۸).

څلورم: په پای کې، دا ډېر دردونکی حالت دی چې ښکېلاکګر کافر زموږ چارې څاري او بيا يې په تړاو پرېکړې کوي... او د اسلامي هيوادونو چارواکي يې پلي کوي... پرته له دې چې له رسول الله صلی الله عليه وسلم او له هغه الله سبحانه وتعالی څخه شرم وکړي چې برلاسی او د حکمت څښتن دی. خو کله چې دوی ته حقيقت وړاندې شي، نو د خپلو هغو بادارانو د خوشحالۍ لپاره له هغه څخه ليروالی غوره کوي، چې دوی يې د دغو مقامونو څښتنان ګرځولي. دوی د خپلو مخکنيو چارواکو له برخليک څخه عبرت نه اخلي، چې د خپلو بادارنو له لوري له ګټې اخستنې وروسته د بوتل په څېر وغورځول شول. هو، دوی په خپل لاس ځان په خپله په دنيا او اخرت کې د تباهۍ کندې ته و غورځاوه، ځکه له حقيقت څخه يې ډډه وکړه چې کله ورته څرګند شو.

﴿وَهُمْ يَنْهَوْنَ عَنْهُ وَيَنْأَوْنَ عَنْهُ وَإِنْ يُهْلِكُونَ إِلَّا أَنْفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُونَ﴾

[الانعام:٢٦]

*ژباړه: هغوی د دې حق له منلو څخه خلک منع کوي او په خپله هم ورڅخه لیروالی غوره کوي. په داسې حال کې چې په اصل کې هغوی په خپله د خپلې تباهي وسایل برابروي، خو د دې شعور نه لري.*

که همدا حالت ته دوام ورکړي، بیا به یې دنیا او اخرت له لاسه ووځي، په رښتیا سره دا یو لوی زیان دی.

۱۴۴۰ هـق، د ربیع الاخر ۲۳ مه

۲۰۱۸م، د دیسمبر ۳۰ مه